اليوم الآخر – اللغة البشتو

# د قيامت د ورځی بيان

المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد
وتوعية الجاليات بالزلفي

# اليوم الآخر

أعده وترجمه للغة البشتو
المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد و توعية الجاليات بالزلفي
الطبعة الأولى: ١٤٣٩/٨هـ


ح المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالزلفي
فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر
المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالزلفي
اليوم الآخر- الزلفي، ١٤٣٩هـ
ردمك: ٤-١١-٨٢٤٣-٦٠٣-٩٧٨
(النص باللغة البشتو)
١-القيامة ٢- الجنة والنار أ- العنوان

ديوي ٢٤٣ ١٤٣٩/٦٣٥٧

رقم الايداع: ١٤٣٩/٦٣٥٧
ردمك: ٤-١١-٨٢٤٣-٦٠٣-٩٧٨

# د قيامت د ورځې بيان

د ايمان په بنيادی ارکانو کښې يو رکن ايمان بالآخرت دے، انسان تر هغه وخت پورے مؤمن ندے ترڅو چه په هر هغه څه ايمان رانه وړی کوم چه د الله کتاب کښې او د رسول الله ﷺ احاديثو کښې بيان شوی دی . د آخرت په باره کښې علم حاصلول، يادول ډير ضروری دی چه د انسان د نفس اصلاح وشی، پرهيزګاری، او په دين باندے کلک والے او نور خائسته صفات انسان کښې پيدا شی، دے دپاره د مرګ ياداشت ډير ضروری دے، د مرګ او د مرګ نه پس راتلونکی حالتو نه غفلت انسان کښې په ګناه باندے جرأت پيدا کوی، الله تعالی د هغے ورځے په باره کښې فرمائی:[فَكَيْفَ تَتَّقُونَ إِنْ كَفَرْتُمْ يَوْمًا يَجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِيبًا] {المزمل:۱۷} ترجمه: نو څنګه به بچ شئ تاسو که چرے کفر (انکار)کوئ د هغے ورځے نه چه وبه ګرځوی ماشومان بوډاګان .او بل ځائ الله تعالی فرمائی:[يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ . يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّا أَرْضَعَتْ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ سُكَارَى وَمَا هُمْ بِسُكَارَى وَلَكِنَّ عَذَابَ اللهِ شَدِيدٌ] {الحج:۲}

ترجمه: اےخلقو ! ویره کوئ د رب خپل نه، یقینًا زلزله د قیامت یو څیز دے هیبتناک، په هغه ورځ چه وبه وینئ تاسو هغے لره چه غافله به شی هره پئ ورکونکے د هغه بچی نه چه پئ ورته ورکوی، او وبه غورځوی هر حمل والا حمل خپل، او وینے به ته خلقو لره نشه او حال دا چه دوی نه دی نشه لیکن عذاب د الله تعالی ډیر سخت دے .

## د مرګ بیان

د هر ساه لرونکی آخری منزل مرګ دے الله تعالی فرمائی: [كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ ] {آل عمران:۱۸۵} (هر ساه لرونکے به د مرګ څکه کوی ) [كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ]{الرَّحمن:۲٦} (ټول هغه څوک چه په زمکه باندے دی، فنا کیدونکی دی) او خپل نبی کریم ﷺ ته ئے خطاب کړے دے:[إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُمْ مَيِّتُونَ]{الزُّمر:۳۰} ترجمه:یقینا ته هم مړ کیدونکے ئے او یقیناً دوی هم مړه کیږی .**د مرګ** په باره کښې یو څو ضروری خبرے ذکر کول مناسب ګنړم .

۱ = ډیر خلق د مرګ نه غافله دی، حالانکه مرګ یو داسے حقیقت دے چه د شک کولو ګنجائش نه لری، هر مسلمان

باندې فرض دی چه خپل مرګ ډير ډير يادوی، او د هغې دپاره تيارې کوی، د مهلت د ختميدلو نه مخکښې دنيا کښې د عمل صالح په ذريعه د آخرت ډيره ګټه وکړی،

د الله رسول ﷺ فرمايلي دي : د پنځو خبرونه مخکښې د پنځو څيزونو نه فائده واخلئ د مرګ نه مخکښې دژوند نه، د مرض نه مخکښې د صحت نه، د مصروفيت نه مخکښې د فرصت نه، د بوډاتوب نه مخکښې د ځوانئ نه، د فقر نه مخکښې د مالدارئ نه، (رواه احمد ) .

دا خبره د يادولو وړ ده چه قبر ته څوک د دنيا نه مال دولت نشي وړلے، صرف انسان سره به خپل عمل وی، د عمل صالح په ذريعه انسان د آخرت سعادتونه حاصلولے شی، او د الله په حکم د عذاب نه نجات موندلے شی .

۲= د انسان د مرګ ورځ نامعلومه ده، د الله تعالی نه علاوه بل چا ته نده معلومه چه کله به مرم او په کوم ځائ کښې به مرم ځکه چه دا علم غيب دے، او ددے خبر صرف او صرف د الله تعالی سره دے .

٣= کله چه مرګ راشي بيا د مرګ نه بچ کيدل ناممکن دی، نه روستو کيږی او نه ترے تيخته کيږی، الله تعالی فرمائی: [وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ] {الأعراف:٣٤} ترجمه:او دپاره د هرے ډلے يوه نيټه وی، پس کله چه راشي نيټه د دوی، نه به روستو کيدے شي يو ساعت او نه به مخکښې کيدے شي .

٤= د مؤمن د مرګ منظر څه داسے وی چه ملک الموت (د مرګ فريښته) يو ډير خائسته شکل کښې راشی . او مؤمن ته د جنت خوشخبري ورکړی، الله تعالی فرمائي:[إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ]{فصّلت:٣٠} ترجمه:يقيناً هغه کسان چه وائي رب زمونږه الله تعالی دے، بيا پاخه شوی وی (په دے وينا) راکوزيږی په دوی باندے ملائک چه مه ويريږئ او مه خفه کيږئ او زيرے واخلئ په جنت سره هغه چه تاسو سره ئے وعده کيدے شوه .د کافر د مرګ منظر داسے وی چه ملک الموت هيبتی شکل جوړ کړی، او دده خوا ته راشی، تک تور مخ والا وی، او ورسره د عذاب ملائکه هم وی چه د عذاب خبر ورته ورکوی، الله

تعالى فرمائي :[ إِذِ الظَّالِمُونَ فِي غَمَرَاتِ الْمَوْتِ وَالْمَلَائِكَةُ بَاسِطُوا أَيْدِيهِمْ أَخْرِجُوا أَنفُسَكُمُ الْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُونِ بِمَا كُنتُمْ تَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ غَيْرَ الْحَقِّ وَكُنتُمْ عَنْ آيَاتِهِ تَسْتَكْبِرُونَ] {الأنعام:۹۳} ترجمه:او که اُووینے ته هغه وخت چه ظالمان به په سختو د مرګ کښې وی، او ملائک به اُوږدونکی وی لاسونه خپل (وته وائي به) را او باسئ ساګانے خپلے نن بدله درکیدے شی تاسو ته د عذاب د ذلت په سبب د هغه چه جوړولے تاسو په الله تعالى باندے ناحقه خبرے، او وئ تاسو چه د آیاتونو د هغه نه مو لوئی کوله .مرګ سره حقیقت معلوم شی، هر انسان ته خپله نتیجه معلومه شی،الله تعالى فرمائي : [حَتَّى إِذَا جَاءَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُونِ.لَعَلِّي أَعْمَلُ صَالِحًا فِيمَا تَرَكْتُ كَلَّا إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَائِلُهَا وَمِنْ وَرَائِهِمْ بَرْزَخٌ إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُونَ]{المؤمنون:۱۰۰} ترجمه:تردے وخت پورے چه راشی یو تن د دوی ته مرګ، وائی به اے ربه زما! واپس کړئ ما لره دپاره ددے چه عمل اُوکړم نیک په بدل د هغے کښې چه ما پریخودلے، هیچرے نه کیږی یقیناً دا یوه خبره ده چه دے ئے ویونکے دے، او دوی مخے ته لویه پرده ده، تر هغه ورځے پورے چه دوی به دوباره ژوندی کولے

شي .كله چه مرګ راشي كافر او ګنهګار به ارمان كوی چه دنيا ته واپس شم، او نيک عمل وکړم، ليکن چه وخت تير شي بيا افسوس څه فائده نکوی، الله تعالى فرمائی : [**وَمَنْ يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ وَلِيٍّ مِنْ بَعْدِهِ وَتَرَى الظَّالِمِينَ لَمَّا رَأَوُا الْعَذَابَ يَقُولُونَ هَلْ إِلَى مَرَدٍّ مِنْ سَبِيلٍ**] {الشُّورى:٤٤} ترجمه:او هغه څوک چه الله تعالى ئے بے لارے کړی نو نيشته دے هغه لره هيڅوک بچ كونكے روستو د بے لارے كولو نه او وينے به ته ظالمانو لره هر كله چه اووينی دوی عذاب لره، وائی به دوی آيا شته دے واپسئ ته څه لار.

٥= د الله تعالى په خپلو بندګانو باندے رحمت دے چه څوک د مرګ نه مخكښې لا اله الا الله ووائی هغه به جنت ته داخليږی، رسول الله ﷺ فرمائيلی دی : چا چه دنيا كښې آخری خبره لااله الا الله ووئيله هغه به جنت ته داخليږی (سنن ابی داود) څوک چه رشتينے مؤمن وی هغه ته الله تعالى د مرګ په وخت كښې دا كلمه ورنصيب كوی، او څوک چه مخلص نه وی د هغه نه د مرګ د سختيو د وجے نه پاتے شی والعياذ بالله، ددے وجے نه څوک چه مرګ ته نزدے وی د هغه په خوا كښې د لا اله الا الله تلقين كول

پکار دی، رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : چه مړو ته د لا اله الا الله تلقین کوئ . (مسلم : ۹۱۶)او زور به پرے نشي کولے، دے دپاره چه تنګ نشي نو د خولے نه به ئے داسے خبره ووځي چه مناسب به نه وي .

## د قبر حالات :

انس رضی الله عنه فرمائي چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی : چه یو بنده قبر کښې کیښودلے شی، او د هغه خپل خپلوان ترے واپس شی، مړے د هغوی د پیزار آواز آوری چه دوه ملائک ورته راشی، په قبر کښې ئے کینوی، ورته ووائی ته ددے سړی په باره کښې څه وائے ؟ د مؤمن سړی جواب دا وی چه زه ګواهی کوم چه دا د الله بنده او رسول دے، نبی کریم ﷺ وفرمائیل چه دے بنده ته ووئیلے شی چه جهنم کښې خپل ځائ وګوره، الله تعالی ددے بدل کښې تاله جنت کښې ځائ درکړو، رسول الله ﷺ وفرمایل چه دغه بنده به په یوځائ دا دواړه ځایونه ګوری، البته کافر یا منافق به د ملائکو په جواب کښې وائی، ما ته پته نشته، خلقو چه به څه وئیل، ما به هم هغه وئیل هغه ته به ووئیلے شی چه نه تا سره علم وو، او نه د حق پسے تللے وے، بیا به په زور سره

یو ګرز باندے د غوږونو مینځ کښې ګوزار ورکړی، د پیریانو او انسانانو نه علاوه ټومره مخلوقات چه نزدے وی هغه ددے مړی آواز آوری. (رواه البخاری) .په قبر کښې دوباره د انسان روح راتلل د انسانی عقل پدے نه پوهیږی، پدے باندے به ایمان بالغیب لرو، او ټول مسلمانان پدے عقیده متفق دی چه کله مؤمن د نعمتونو مستحق وی نو قبر کښې هغه له نعمتونه میلاویږی، او که د عذاب مستحق وی نو قبر کښې هغه ته عذاب میلاویږی، پدے شرط چه الله تعالی ئے معاف نکړی، الله تعالی فرمائی:[النَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ] {غافر: ٤٦} ترجمه:اُور پیش کیدے شی دوی په هغے باندے صبا او بیګاه، او په هغه ورځ چه قائم شی قیامت (وبه وئیلے شی) داخل کړئ فرعونیان ډیر سخت عذاب ته.رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: د قبر د عذاب نه پناهی غواړئ . صحیح مسلم :٢٨٦٧) .عقل سلیم والا انسان ددے حقیقت نه انکار نکوی ځکه چه انسان په ژوند کښې داسے حالات لیدلی وی چه دلیل وی په برزخی حالاتو باندے، لکه یو انسان خوب وینی په هغه باندے خوب کښې ډیر تکلیف

دے، لیکن خوا کښې انسان د هغه په تکلیف نه پوهیږی حالانکه د ژوند او مرګ ډیر فرق دے، قبر کښې روح او بدن دواړو ته سزا میلاویږی،رسول اللهﷺ فرمایلی دی : قَالَ: «**إِنَّ الْقَبْرَ أَوَّلُ مَنَازِلِ الآخِرَةِ، فَإِنْ نَجَا مِنْهُ، فَمَا بَعْدَهُ أَيْسَرُ مِنْهُ، وَإِنْ لَمْ يَنْجُ مِنْهُ، فَمَا بَعْدَهُ أَشَدُّ مِنْهُ** » ترمذی :۲۲۳۰) **ترجمه**:د آخرت د منزلونو نه قبر اول منزل دے، څوک چه دلته کامیاب شی نو راتلونکے مرحلے هم آسانی وی، او که څوک دلته ناکامه شی نو راتلونکے مرحلے نورے هم سختی وی.هر مسلمان له پکار دی چه د قبر د عذاب نه ډیره پناهی وغواړی، او خاصکر د مونځ په آخری قاعده کښې د سلام نه مخکښې، او د ګناهونو نه ځان وساتی، د قبر د عذاب او د جهنم د عذاب د ټولو نه لوئی سبب ګناه ده، د مرګ نه پس حالاتو ته د برزخ ژوند وائی، اکثر خلق په قبرونو کښې دفن کیږی ځکه ورته عذاب قبر وائی، مثلا که څوک اُوبو کښې غرق شی، یا اُور کښې وسوزی، یا حیوانات ئے وخوری، نو دے ټولو ته به په برزخ کښې عذاب یا نعمتونه وی، د عذاب قبر ډیر صورتونه دی لکه په ګروزونو باندے وهل، قبر د تیارے نه ډکول، د اُور بستره ورته غوړول، یا د اُور د جهنم

نه دروازه کولاوول، يا عمل د يو بد شکله انسان په صورت کښې راتلل چه ډير بد بويه وى چه قبر کښې ورسره وى، که قبر والا کافر يا منافق وى نو د قبر عذاب مسلسل وى، او که مؤمن ګنهګار وى نو د ګناه په حساب سره به سزا وى او کله به عذاب ختم شى . مؤمن ته په قبر کښې نعمتونه ميلاويږى، قبر ورته کولاو کړي، د نُور نه ئے ډک کړى، د جنت نه ورته دروازه کولاوه کړى چه د جنت يخه هواء او خوشبوئى وربانده لګى، د جنت بستره ورته وغوړوى، او دده نيک عمل د يو خائسته انسان په شکل کښې راشى، او دده ملګرے شى چه دے ورسره وخت تيروى .

## د قيامت علامے :

١= الله سبحانه وتعالى دا جهان د هميشوالى دپاره ندے پيدا کړے بلکه يوه ورځ به راشى چه دا هرڅه به ختم شى بس دغه ورځ د قيامت ورځ ده، او دا داسے حقيقت دے چه انکار ترے نشى کيدلے، الله تعالى فرمائيلى دى:[إِنَّ السَّاعَةَ لَآتِيَةٌ لَارَيْبَ فِيهَا وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ] {غافر:٥٩} ترجمه: يقينا قيامت خامخا راتلونکے دے هيڅ شک پکښې نشته، ليکن اکثر خلق ايمان نه راوړى .بل ځائ کښې الله

تعالی فرمائي :[وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَأْتِينَا السَّاعَةُ قُلْ بَلَى وَرَبِّي لَتَأْتِيَنَّكُمْ] سبا: ۳) ترجمه: یقینا هغه کسان چه کفر ئے کړے دے وائی قیامت به مونږ ته نه راځی، ورته ووایه ! ولے نه، په رب مے دِے قسم وی چه خامخا به راځی . قیامت ډیر نزدے راغلے دے، الله تعالی فرمائی : (اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ) (القمر: ۱) ترجمه : قیامت نزدے شویدے .الله تعالی فرمائی : [اقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ مُعْرِضُونَ] {الأنبياء:۱} ترجمه:نزدے شویدے خلقو ته حساب د هغوی او دوی په غفلت کښې مخ اړونکی دی .دا نزدے والے د انسانی عقل او سوچ نه اُوچت دے، د الله تعالی د علم غیب سره تعلق لری، او د دنیا چه څومره عمر تیر شویدے د هغے په نسبت سره نزدے دے، د قیامت علم الله تعالی مخلوق ته ندے ورکړے، الله تعالی فرمائی : [يَسْأَلُكَ النَّاسُ عَنِ السَّاعَةِ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللهِ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ تَكُونُ قَرِيبًا] {الأحزاب:٦٣} ترجمه: د قیامت په باره کښې دا خلق ستا نه تپوس کوی، ته ورته ووایه چه د قیامت علم خو صرف د الله تعالی سره دے، او تاته څه پته ده کیدیشی قیامت نزدے وی

. رسول الله ﷺ د قيامت بعض علامات تفصيل سره بيان کړي دي :

### د مسيح الدجال راتلل :

د ټولو نه غټه فتنه د خلقو دپاره د دجال راتلل دی، پدے اعتبار سره چه الله تعالى ورله د بعض غير فطری کارونو کولو قدرت هم ورکړے دے چه خلق به پرے ډير دهوکه کيږی، مثلا هغه به آسمان ته حکم وکړی نو باران به وشی ګياه او فصل ته به حکم وکړی هغه به رازرغون شی، او مړو لره به ژوندی کوی نو داسے د معجزے پشان کارونه به کوی، رسول الله ﷺ فرمائيلی دی چه هغه سره به جنت او جهنم وي، د هغه جنت به حقيقت کښې جهنم وی، او د هغه جهنم به حقيقت کښ جنت وی، او په زمکه کښي به صرف څلويښت ورځے ژوند کوی يوه ورځ به د هغه د يو کال پشان وی، بله به د يو مياشت په مقدار، او بله به د يوے هفتے برابر وی، او نورے ورځے به د عامو ورځو پشان وی، هغه به د مکے مکرمے او مدينے منورے نه علاوه ټوله دنيا کښي ګرځی .

**د قیامت په نخو کښې** د عیسی علیه السلام راتلل دی د دمشق په مشرقی سپینه مناره باندے به د صبا په وخت راکوزیږی، خلقو سره به د صبا مونځ وکړی او بیا به د دجال د مرګ پسے ورځې .

**د قیامت د علامو** نه څه علامی دا هم دی چه نمر به د مغرب نه راوخیژی، ټول خلق به ددے په لیدو ویریږی او ایمان به راوړی، لیکن دغه وخت به ایمان راوړل څه فائده نکوی، او ددے نه علاوه هم علامے شته دے .

۲= قیامت به په بدترینو خلقو باندے قائمیږی، د قیامت نه مخکښې به هواء راشی چه د ایمان والو روحونه به قبض کړی، کله چه الله تعالی د دنیا د ختمولو او د ټولو انسانانو د مړکولو فیصله وکړی، نو الله تعالی به اسرافیل علیه السلام ته حکم وکړی چه په شپیلۍ کښې پوکے وکړه، کله چه خلق دا آواز واوری نو بے هوشه به شی، الله تعالی فرمائی :

[**وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الأَرْضِ إِلَّا مَنْ شَاءَ اللَّهُ**] {الزُّمر:٦٨} ترجمه:او په کومه ورځ چه شپیلۍ ووهلے شی، څوک چه په زمکه او آسمانونو کښې دی مړه

به شي مګر هغه څوک چه الله ئے وغواړي . دا حادثه به د جُمعے په ورځ وی، ددے نه پس به ټول ملائک مړه شي، او صرف د الله تعالی ذات به پاتے شي .

۳= زمکے به د انسانانو جسمونه ټول ختم کړی وی مګر صرف د ملا یو هډوکے به باقي وی، البته د انبیاءکرامو علیهم السلام او شهداو جسمونه زمکه نه خوری، الله تعالی به د آسمان نه باران نازل کړی چه هغے سره به الله تعالی جسمونه راوټوکوی . الله تعالی چه کله د خلقو د دوباره ژوندی کولو اراده وکړی نو اسرافیل علیه السلام ته به حکم وکړی چه شپیلئ وکړي، دے سره به الله تعالی ټول مخلوق پیدا کړی، لکه څنګه چه اول ئے پیدا کړی وو دغه رنګه به ئے د قبرونو نه راپورته کړی، خپے یبله خپے، سرتور سر، بربنډ او نا سونته، الله تعالی فرمائی:[**وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَإِذَا هُمْ مِنَ الأَجْدَاثِ إِلَى رَبِّهِمْ يَنْسِلُونَ**] {یس:٥١} ترجمه: او پوکے به ووهلے شي په شپیلئ کي او یو یو به د خپل رب پیشئ ته د قبرونو نه پاسی. الله تعالی فرمائی:[**يَوْمَ يَخْرُجُونَ مِنَ الأَجْدَاثِ سِرَاعًا كَأَنَّهُمْ إِلَى نُصُبٍ يُوفِضُونَ. خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ذَلِكَ الْيَوْمُ الَّذِي كَانُوا يُوعَدُونَ**] {المعارج:٤٤}

ترجمه :په هغه ورځ چه دوی به راوځی د قبرونو نه په تادئ سره ګویا که دوی خپلو معبودانو ته ورزغلی, کوزی به وی سترګے د دوی، پټوی به دوی لره ذلت، دا ورځ ده هغه چه دوی سره ئے وعده کیدے شوه .د ټولو نه اول به زمکه هغه ځائ کولاوه شی چه کوم ځائ د نبی کریم ﷺ قبر مبارک دے، او بیا به نور خلق د محشر میدان ته روان کړے شی، چه ډیر لوئی میدان دے، کافران به نسکور روان وی په سرونو باندے، د رسول اللهﷺ نه تپوس وکړے شو چه په سرونو به څنګه روان وی ؟ رسول اللهﷺ جواب ورکړو چه هغه ذات چه په دنیا کښې ئے په دوه خپو روان کړی وو، هغه ذات قادره دے چه قیامت کښې ئے په مخ باندے نسکور روان کړی. (مسلم :۲۸۰٦) د الله تعالی ذکر نه مخ اړونکے به ړوند راپاڅوی، نمر به خلقو ته ډیر نزدے وی او هر سړے به د خپل عمل مطابق په خولو کښې ډوب وی، د چا خوله به تر پړکو پورے وی، او د چا خوله به تر ملا پورے وی، او د چا خوله به تر خولے پورے، بس دهر چا د عمل مطابق به وی، پداسے خطرناک حالت کښې به څه خلق خوش قسمته وی چه د الله تعالی د عرش د سوری د

لاندے به ولاړ وی .رسول الله فرمائیلی دی: **سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لاَ ظِلَّ إِلاَّ ظِلُّهُ الإِمَامُ الْعَادِلُ وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ رَبِّهِ وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ فِي الْمَسَاجِدِ وَرَجُلاَنِ تَحَابَّا فِي اللهِ اجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ وَرَجُلٌ طَلَبَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ فَقَالَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ أَخْفَى حَتَّى لاَ تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِينُهُ وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللَّهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاه**" (بخاري) ترجمه:اُووه قسمه خلق به وي چه الله تعالی به ورله سورے ورکړی په هغه ورځ چه بل سورے نشته دے، انصاف کونکے بادشاه، او هغه ځوان چه د الله په عبادت کښې رالوئي شی، هغه کس چه مساجدو سره ئے زړه لګیدلے وی، او هغه دوه کسان چه د الله د رضا دپاره ئے د یو بل سره محبت وی، او پدے باندے یو ځائ کیږی، او پدے جدا کیږی، او هغه کس چه یو اُوچت خاندان او حسن والا ترے مطالبه د زنا وکړی او دے ورته ووائي چه زه د الله نه یریږم، او هغه کس چه صدقه وکړی او دومره پټه چه ګس لاس ترے خبر نه شی چه ښی لاس څه خرچ کړل، او هغه کس چه یواځے الله تعالی رایاد کړی او د سترګونه ئے اُوښکی روانے شی او دا حدیث صرف د سړو دپاره نه بلکه زنانه دپاره هم دے، د هر

نيک عمل بدله ښه وي او د بد عمل بدله بده وي، د ښځو او سړو ټولو دپاره، د قيامت په ورځ به خلق ډير تکې کيږي، دغه ورځ پنځوس(٥٠) زره کاله ده، په مؤمن باندے به ډيره زر تيره شي لکه د فرض مونځ پشان، او رسول اللهﷺ به حوض ته راشي چه دا د الله تعالى ډير لوئ نعمت دے، الله زمونږ نبي کريم ﷺ ته ورکړے دے چه خپل امتيانو له به د قيامت په ورځ اُوبه ورکوي، چه اُوبه ئے د پيو نه سپينے دي، او د شهدو نه خوږے دي، او د مشکو نه خوشبويه دي، د آسمان د ستورو په مقدار ئے جامونه دي، او چا چه يو ځل دا اوبه وڅښکلے بيا به چرے تګے نه شي،

ټول خلق به ميدان محشر کښې د حساب کتاب انتظار کښې ولاړ وي، ګرمي به وي، آخر به تنګ شي، د داسے چا په تلاش به وځي چه زمونږه دپاره تلاش وکړي، آدم عليه السلام ته به راشي هغه به معذرت پيش کړي، بيا به نوح عليه السلام له بيا ابراهيم عليه السلام بالآخر به محمد رسول الله ﷺ له راشي، هغه به ورته ووائي : آو، دا زما مقام دے، رسول الله ﷺ به د عرش د لاندے په سجده پريوځي او د الله تعالى داسے حمدونه او ثناګانے به ووائي چه مخکښې

ځې ندي وئیلې، بیا به الله تعالی ارشاد وفرمائی : اے محمد !
سر اوچت کړه، غواړه درکیدلے به شی، او شفاعت کوه
شفاعت به دِے قبلیږی.بنده سره به په عملونو کښې اول
حساب د مونځ کیږی، که مونځ برابر وو او قبول شو، بیا به
په نورو عملونو کښې غور کیدلے شی، او که مونځ کښې
نقصان وو، نو بیا به نور اعمال هم مردود وی . د هر بنده نه
به د پنځو څیزونو تپوس ضرور کیږی، عمر دِے په څه کې تیر
کړو، ځوانی دِے څه کښې تیره کړه، مال دِے چرته نه ګټلے
وو، او چرته دِے مصرف کړو، او علم باندے دِے څومره
عمل کړے وو، او د ټولو نه اول به د وینے په باره کښې
حساب کیږی، او فیصله به د نیک عمل اخستلو او یا د هغه
ګناهونه په مجرم باندے بار کیدلو په صورت کښې کیږی .د
جهنم دپاسه یو پل جوړکړے شوے دے چه د ویښته نه
باریک دے، د تورے نه تیره دے، خلق به د خپل عمل
مطابق ورباندے تیریږی، څوک به د سترګے د رپ پشان، او
څوك د هواء پشان، او څوک د تیز رفتار آس پشان، او څوك
به په خپوړو(ګونډو) باندے روان وي، او د پل په غاړو
باندے کنډے دی چه کافران او ګناهګار به جهنم ته

غورځوی، کافر به همیشه په اُور کښې وی او ګناهګار چه کله الله وغواړی د اُور نه به ئے رابهر کړی او جنت ته به ئے داخل کړی .

انبیاء کرامو، رسولانو، او مؤمنانو کښې الله تعالی چه چاله اجازت ورکړی هغوی به د ګناهګارو مؤمنانو دپاره شفارس کوی، څوک چه پل صراط باندے پورے وځی هغه به جنت ته داخلیږی، لیکن دوی به د جنت او جهنم په مینځ کښې یو پل باندے ایسار کړی چه د یو بل نه بدلے واخلی، هغه کس به جنت ته نشی تللے ترڅو چه یو بل ته زړونه صفا نکړی .

جنتیان به جنت ته لاړشی او جهنمیان به جهنم ته لاړ شی، مرګ به د یو ګډ په شکل کښې راوستلے شی، او د جنت او جهنم مینځ کښې به ذبح کړے شی، جنتیان او جهنمیان به دا منظر ګوری، او بیا به آواز وکړے شی چه جنتیان به جنت کښې همیشه وی، او جهنمیان به جهنم کښې همیشه وی، بیا که مرکیدل وے، نو جنتیان به د خوشحالئ نه مړه شوی وے، او که مرګ وے نو جهنمیان به د غم نه مړه وے .

## د جهنم د عذاب حال :

الله تعالی فرمائیلی دی:[**فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالحِجَارَةُ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ**] {البقرة:٢٤}ترجمه : ځان بچ کړئ د اُور نه هغه چه خشاک د هغے خلق دی، او کانړی دی، تیار کړے شویدے د کافرانو دپاره .

رسول الله ﷺ صحابه کرامو رضی الله عنهم ته وفرمایل : چه ستاسو د دنیا اُور د جهنم د اُور اویایمه حصه ده، چا تپوس وکړو چه اے د الله رسوله ! د کافرانو دپاره خو د دنیا دا یوه حصه هم کافی وه، رسول الله ﷺ جواب ورکړو چه د جهنم اُور د دنیا د اُور نه یو کم اوویا حصے زیات دے . (بخاری ومسلم)د جهنم اُووه (٧) طبقے دی، هر طبقه د بلے نه ډیره سخته ده، او هر طبقه کښې به خلق د اعمالو په اعتبارسره وی، منافقان به د ټولو نه لاندے طبقه د اُور کښې وي، چه ډیره سخته ده، د کافرانو عذاب به په جهنم کښې همیشه وی، وقفه به پکښې نوی کله چه څرمنے ئے وسوزی، الله به ورته څرمنے بدلے کړی چه عذاب مزه وځکی، الله تعالی فرمائی : [**كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُمْ بَدَّلْنَاهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا لِيَذُوقُوا العَذَابَ** ] {النساء:٥٦} ترجمه: او هر وخت چه ستکوری شی

خرمنے د دوی بدلے به کړو دوی له خرمنے نورے دے دپاره چه اوځکی دوی عذاب . الله تعالی فرمائی : [**وَالَّذِينَ كَفَرُوا لَهُمْ نَارُ جَهَنَّمَ لَا يُقْضَى عَلَيْهِمْ فَيَمُوتُوا وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُم مِّنْ عَذَابِهَا كَذَٰلِكَ نَجْزِي كُلَّ كَفُورٍ**] {فاطر:٣٦}ترجمه : او هغه کسان چه کفر ئے کړے دے، دوی دپاره اُور د جهنم دے، فيصله به نه کيږی په دوی باندے چه مړه شی، او نه به شی سپکيدلے د دوی نه عذاب د هغے، دغه شان سزا ورکوو مونږ هر منکر ته .

خلق به په زنځيرونو او طوقونو کښې تړلے شوی وی، الله تعالی فرمائی : [**وَتَرَى الْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ مُّقَرَّنِينَ فِي الْأَصْفَادِ، سَرَابِيلُهُم مِّن قَطِرَانٍ وَتَغْشَىٰ وُجُوهَهُمُ النَّارُ**] {إبراهيم:٥٠} ترجمه: او ته به وينے مجرمان په دغه ورځ يوځاى تړلے شوى په زنځيرونو کښې، قميصونه د دوی به د رنزړونه وی، او پټوی به مخونه ددوی لره اُور .

د جهنميانو خوراک په باره کښې الله فرمائی:[**إِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّومِ طَعَامُ الْأَثِيمِ، كَالْمُهْلِ يَغْلِي فِي الْبُطُونِ، كَالْمُهْلِ يَغْلِي فِي الْبُطُونِ، كَغَلْيِ الْحَمِيمِ**] {الدُخان:٤٣/٤٦} ترجمه:يقينا ونه د زقوم، خوراک د ګناهګار دے، پشان د ويلی کړے شوے

تانبے، خوټ کیږی به په خیټو کښې پشان د خوټ کیدلو د یشیدلو اوبو.

نبي کریم ﷺ د جهنم او د جنت بیان کړے دے چه د قیامت په ورځ به یو جهنمی راوستلے شی چه په دنیا کښې ئے هر قسمه نعمتونو کښې ژوند کوو، په جهنم کښې به یو غوپه ورکړی، بیا به ترے تپوس وکړے شی چه اے د آدم ځویه! چرته دِے څه شحالی او نعمت لیدلے دے؟ هغه به وائی اے الله ! ستا په ذات مے دِے قسم وی، ما چرته نه ده لیدلے، او یو جنتی به راوستلے شی چه دنیا کښې ئے ډیر تکلیفونه او سختئ تیرے کړی وی، نو جنت کښې به یو چکر ورکړی، بیا به ترے تپوس وکړے شی چه اے د آدم ځویه! څه تکلیف یا پریشانی دِے لیدلے ده؟ هغه به وائي قسم په الله هیڅ تکلیف او پریشانی مے نده لیدلے (مسلم ۲۸۰۷:) د جهنم یوه غوپه به د کافر نه د دنیا ټولے خوشحالئ هیرے کړی، او د جنت یو چکر به د مؤمن نه د دنیا ټول تکلیفونه هیر کړی.

## د جنت حال :

جنت نوم د هغه کور دے چه هميشه وی، او د عزت ځائ وی چه الله تعالی د نيکانو بندګانو دپاره تيار کړے دے، داسے داسے نعمتونه پکښې دی چه سترګو ندی ليدلی، غوږونو ندی آوريدلی، او د هيڅ انسان په زړه کښې د هغے خيال هم ندے تير شوے:[فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ]{السجدة :١٧} ترجمه: يو نفس ته پته نشته چه مونږ د سترګو يخوالے دوی له پټ ساتلی دے، بدله د هغه څه ده چه دوی کوم عملونه کوی .د جنت ډيرے درجے دی چه ايمان والو ته به د اعمالو په اعتبار ورکړے شی، الله تعالی فرمائی:يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ {المجادلة:١١} ترجمه:الله تعالی درجے اُوچتوی د هغه کسانو چه ايمان والا وی او خاوندان د علم وی .جنتيان چه څه غواړی هغه به ورته ميلاويږی، خوراک څښاک وغيره، جنت کښې داسے نهرونه دی چه د هغے اوبه نه بدليږی، داسے د پيوو نهرونه دی چه نه به بے خونده کيږی، او پاک صفا شهد پکښې دی، او د شرابو نهرونه دی چه څکونکي ته به لذت (خوند) ورکوی،

د جنت او دنيا ښځو کښې ډير فرق دى، الله تعالى فرمائى : [يُطَافُ عَلَيۡهِم بِكَأۡسٍ مِّن مَّعِينِۭ، بَيۡضَآءَ لَذَّةٖ لِّلشَّٰرِبِينَ، لَا فِيهَا غَوۡلٞ وَلَا هُمۡ عَنۡهَا يُنزَفُونَ] {الصَّافات:٤٧} ترجمه:ګرځولے به شى په دوى باندے کاسے ډکے د خالص شرابو نه، سپين، مزه ورکونکى به وى څکونکو ته، نه به وى په هغے کښې آفتونه او نه به دوى له د هغے نه التۀ ورځى . د جنتيانو نکاح به د غټو سترګو والا حورو سره کيږى، د هغے په باره کښې رسول الله ﷺ فرمائيلى دى : که د جنت يوه حوره دنيا ته راښکاره شى نو ټوله دنيا به د رنړه او خوشبوئۍ نه ډکه شى . (رواه البخارى )د جنتيانو دپاره به عظيم نعمت د الله سبحانه وتعالى ملاقات وى، جنتيانو له به نه ورے متيازے او نه غټے متيازے ورځى، او نه به بلغم وي او نه خراشکى، دسرو زرو ګمنزے به وى، او د دوي خوله به د مشکو پشان بوئى لرى، د جنت نعمتونه به هميشه وى، هيچرے به هم نه ختميږى، رسول الله ﷺ فرمائيلى دى : څوک چه جنت ته داخل شى هغه به په نعمتونو کښې هميشه وى، نعمتونو نه به نه محروميږى، کپړے به ئے نه زړيږى، او نه به ځوانى ختميږى . (مسلم)

جنت کښې به د ټولو نه کمه حصه د هغه چا وی چه جنت ته به آخری ور داخلیږی د هغه حصه به ددے دنیا لس چنده وی (الله سبحانه وتعالی دِے مالا او زما سره ټولو هغه ځوک چه پدی کتاب کښې راسره مدد کړی دی او هغه ځوک چه دا کتاب لولی او عمل ورباندی کوی ټولو له جنت الفردوس را نصیب کړی آمین یا رب العالمین

وبالله تعالي التوفيق

# فهرست: دقيامت  د ورځې بيان



| | |
|---|---|
| د قيامت د ورځې  بيان | 3 |
| د مرګ بيان | 4 |
| د قبر احوال | 9 |
| د قيامت علامې | 12 |
| د مسيح دجال راتلل | 14 |
| د جهنم  د عذابونو حال | 22 |
| د جنت حال | 25 |